# پر پښتو ادب د انټرنیټ اغیز

## Internet effect on Pashto literature

حمیدالله عمرخېل *

**Abstract**:

The Internet offers opportunities for those people who are banished from community, including a number of women, to take more part in reading and inventing the publications. The contact between authors is excellence on internet. Opportunity for free thinking is provided. In the definition of art, we study statement own self is art; then the third means that is censorship is no more here, the censorship and the barriers should not be preceded and the Internet has provided the opportunity to remove these obstacles and the ground is provided for Literary Realism. No attention to Pashto orthography will increase the difficulty of searching Pashto articles, proses, poems and books. Unnecessary criticism, copyright, lesser use of references and writing alias are the others defects of Internet. Internet has made a positive impact on the increase of the number of authors. In this articles, Internet effects on Pashto language and literature have been discussed. Some benefits and losses are presented in four section principles of writing art, poetry and verse, prose and criticism.

some new terms will be known in this article:

1: Digital Poet 2: Internet Literature 3: Global Village

**Key words** :Internet, Pashto Language, Digital Poet, Internet Literature, Global Village.

د انټر نیټ په مټ د ځمکې تنابونه دومره لنډ شوي چې د اسیا ، اروپا ، امریکا ، استرالیا او افریقا د لویو وچو تر منځ، د مینانو دیدنونه په کلونو ، میاشتو او ورځو کې نه، په څو ثانیواو شیبو کې تر سره کیږي.

د ځمکې د کرې پر مخ د خورو ورو ولسونو تر منځ، دغه ډول نږدیوالي، ټوله نړۍ په یوه کلي بدله کړې، په داسې یو کلي چې په یو سر کې یې غږ وشي نو بل سر ته یې په همغه شیبه کې رسیږي. همدا لامل دی چې نن په نړیوالو ادبیاتو کې د (گلو بل ویلج ) اصطلاح ډیره کارول کیږي. همدې اصطلاح ته، موږ په خپله ژبه کې ( نړیوال کلی ) ویلی شو .او پروسې ته یې گلوبلیزم یا نړیوال کیدل ویل کیږي.

د ۲۰ پېړۍ په پای او د ۲۱ پېړۍ په پیل کی، متفکر انسان د انټرنیټ په تیره چاړه د بیلتانه اوږده مزي داسې پرې کړل، چې ډیر ژر به که خدای کول د بېلتون او جدايې اصطلاح گانې، دنړۍ د ژبو له قاموس څخه د تل له پاره ووځي.

---

* PhD Scholar, Department of Pashto, University of Kabul, Afghanistan

ځکه نن د زرګونو کيلو مترو په واټن کې خپل خپلوان، لرې او نږدې ملګري او دوستان، نه يوازې دا چې په تليفون يو د بل له حال احواله ځان خبرولی شي، بلکې په ساعتونو ساعتونو د کمپيوټر په سکرين يو بل ته مخامخ ګوري، او په خپل منځ کې اوږدې مرکې او بنډارونه کوي.

دا منو چې جنګ له موږ نه ډير څه واخيستل؛ خو يو څه مو په لاس هم راوړل او هغه دادي چې زموږ تنکيو زلميانو، په پر مخ تلونکو هيوادونو کې، د عصري علومو په ګانه ځانونه سمبال کړل او د همدې علومو له برکته يې په پوره زيرکۍ وکولی شول، خپله مورنۍ ژبه پښتو، بې له حکومتي مرستې او کمک څخه، د نړيوالو ژبو سره سياله کړي. د همدغو تنکيو زلميو په هڅه او هاند موږ، نن د انټرنيټ په نړۍ کې خورا زياتې ويب پاڼې لرو، چې هره ورځ په سلګونو او زرګونو لوستونکي او ليدونکي لري او د هرې ورځې په تيريدو د پښتو ادب، فرهنګ، کلتور سياسي پوهې، او د ټولنيزو مسايلو په وده کې په زړه پورې پرمختګونه را منځ ته کيږي. موږ بايد په خپلو دغو ځوانانو وویاړو او فخر پرې وکړو.

بل دا چې د ۲۰۰۵ کال د XP وينډوز وروستي ورژن ته پښتو داخله شوه او بل دا چې په نړۍ کې تر ټولو ستر ريسرچر يا لټونکی ماشين (ګوګل) هم په پښتو وژباړل شو اوس موږ کولی شو په ډيرې اسانۍ د خپلې خوښې شی د دې لټونکي ماشين په مرسته تر لاسه کړو. لنډه دا چې د ميکروسافت د دې هلو ځلو تر څنګ، پښتانه ځوانان هم په دې توانيدلي دي، چې د پښتو بې شميره ويب پاڼې، د انټرنيټ په نړيوال کلي کې ځای په ځای کړي چې موږ دغه بې شميره ويب پاڼې د منځ پانګې او اړيکو له مخې په څو کټګوريو ويشلی شو: ادبي او کلتوري ويب پاڼې ، خبري ويب پاڼې، اسلامي ويب پاڼې، سياسي ويب پاڼې، ټولنيزې ويب پاڼې او نورې... خو په دې ليکنه کې کوښښ شوی دی چې د هغو ويبپاڼو اغيز پر پښتو ادب وڅيړل شي، چې پښتو ادبي خپرونې لري.

په انګليسي ژبه د پښتو، پښتنو او افغانستان په هکله پښتو ويب پاڼې له ډيره وخته راهيسې وې ، خو دا چې پښتو ژبه او د پښتو ادبي خپرونو لړۍ په انټرنيټ کې له کله پيل شوه ، په دې اړه د ټول افغان ويب پاڼې چلوونکي نظر دا دی:

د تسل په وينا:

" د پښتو لومړنۍ ويب پاڼه د http://members.aol.com/tnoorzai په نوم وه. د ټول افغان چلوونکی شېرزاد کامه وال زياتوي: نومورې ويب پاڼه ډېرې ستونزې لري او کارونه يې ډېر محدوده ده".(1)

نومورې ويب پاڼه د افغاني پاڼې په نوم جوړه شوې وه. دا ويب پاڼه تخنيکي ستونزې لري؛ خو د دې خبرې کول هم اړين دي، چې هر کار په لومړيو کې له ستونزو خالي نه وي څو د پخته ګۍ حالت ته

ورسيږي، د ستونزو او مشکلاتو سره سره د يوه کار پيل ته کارنامه يا پيل نامه وايي؛ خو چې پيل شي نو بيا ستونزې هم هواريږي.

په پښتو ژبه د پښتو ادب خپرولو لړۍ به هم لومړيو کې څه ستونزې درلودې، خو کله چې پښتنو ادب پالو او روڼ اندو ورته پام وکړ او دې کار ته يې اوږه ورکړه؛ نو يې ستونزې په نوبت يوه يوه له منځه يوړه، چې اوس دا دی د بريالتوب په لور روان يو او د خدای رحم دی چې په خپله مورنۍ ژبه او د خپلې ژبې ادب په انټرنېټ کې ليدلی، اورېدلی او لوستلی شو.

د هېواد ، افغانستان ، او مستانه وېب پاڼو مسؤل د پښتو وېب پاڼو په اړه وائي:

"له انټرنېټه سره لومړنۍ تجربه په ۱۳۹۳ کال وشوه او په کال ۱۳۹۴ م هـ ش کې يوه وېب پاڼه جوړه شوه، دغه مهال انټرنېټ د پښتنو او پښتو ادب په اړه زياتې وېب پاڼې درلودې، کومې چې وې هرې يوې يې په خپل ځان کې بېلابېلې ستونزې درلودې. لومړۍ وېب پاڼه چې د پښتو او پښتنو په ننګ جوړه شوې وه "پښتون قامي وحدت" نومېده چې د يوې افغانې نجلۍ له خوا جوړه شوې وه ، دغه وېب پاڼه اوس په انټرنېټ کې نشته".(2)

له دې څخه مخکې مونږ دا اندازه لګولای شو چې پښتو وېب پاڼې د ۲۰۰۰ م کال څخه وروسته په انټرنيټ کې خپل ځان په بشپړه توګه وموند او د دغه کال څخه وروسته يې نه يوازې په چټکۍ سره پرمختګ وکړ بلکې ګرده نړۍ کې د خورو ورو پښتنو پام يې ځان ته راواړوه، دا بېل بحث دی چې اوس مهال څومره پښتانه له دې پښتو وېب پاڼو نه کار اخلي، مونږ دلته يوازې په پښتو وېب پاڼو او د هغو په ادبي اړخ خبرې کوو.

اوس پاتې شوه دا خبره چې پر پښتو او پښتو ادب په انټرنېټ کې لومړۍ کار چا کړی غواړم دې برخې ته هم لنډه اشاره وکړم. عبدالهادي حيران د ( پښتو په انټرنېټ کې ) تر عنوان لاندې کتاب په ۲۰۰۶ م کال کې ليکلی چې زه يې دلته د موضوع په شاليد کې لومړنی بشپړ کتاب چې چاپ شوی، او په هغو پښتو ادبي خپرونو باندې رڼا اچولې چې په انټرنېټ کې خپريږي.

دا د پښتو وېب پاڼو، پښتو برښناليک، د پښتو وېب پاڼو د بحث، د فورمونو او په انټرنېټ باندې د پښتو د نورو اړوندو موضوعاتو په هکله معلومات چې ځوان ليکوال او ژورناليست عبدالهادي حيران ليکلي دي او په پېښور کې د افغان خپرندويه ټولنې لخوا چاپ شوی دی.

تقريباً په ۱۵۰ مخونو خور شوی دی، دا کتاب په زړه پورې سرپاڼه او د پښتو وېب پاڼو په هکله ښه معلومات لري، مهم سرليکنه يې د انټرنيټ لنډه پېژندنه، د انټرنېټ د ايجاد او ودې پړاوونه، د وېب پاڼو پيل او دوام، د فونټ ستونزې، د پښتو او پښتو وېب پاڼو د فورمونو بحث، د وېبلاګ پېژندنه، پښتو وېبلاګونه، انلاين مجلې، انلاين کتابونه، پښتو برېښناليک، انټرنيټ او پښتو ادب يې له عمده موضوعاتو څخه دي.

د حیران صېب ځانګړتیا دا ده چې یو خو یې ځای په ځای په ځینیو وېبپاڼو تبصرې، نیوکې او وړاندیزونه هم کړي دي او بل دا چې د کتاب په اخر کې د "انټرنېټ او پښتو ادب" تر سرلیک لاندې چې کومې خبرې او شعرونه ورکړل شوي دي. نو دا د هغه ادیبانه فکر او د ښې لیکوالۍ ثبوت ورکوي.

خو په دې کتاب کې د انټرنیټ پر مثبت او منفي اغېز چې زموږ پر ادب یې کړی په تفصیل خبرې نه دي شوي. دا مقاله به د پورته ذکر شوي کتاب په توپیر ځوانانو ته د انټرنیټ ګټې او زیانونو وروپیژندلو تر څنګ د پښتو ادب انلاین وضعیت د کیفیت او کمیت له اړخه وڅېړل شي.

صیام الدین پسرلی په نوم لیکوال هم په پښتو ژبه د افغانستان او نړۍ مشهورو وېب پاڼو په اړه یو کتاب لیکلی دی، چې دا کتاب پښتو وېب پاڼې نه بلکې د سیمې او نړۍ مشهورې وېب پاڼې راخیستي دي؛ خو په هر حال زما په پوهه چې دا لیکنه (پر پښتو ژبه او ادب د انټرنیت اغېز) به یې دویم کار وي چې په پښتو ژبه پرپښتو وېب پاڼو او پر پښتو ادب د انټرنېټ اغېز په اړه لیکل شوی دی.

دا یوه جوته خبره ده، چې هره څېړنه د یوې اړتیا او ستونزې له کبله تر سره کېږي، لکه څنګه چې پښتو ادب په وېب پاڼو کې هغه هم په پښتو ژبه د پام وړ کار نه دی شوی، ځکه لاژمه وګڼل شوه چې د دغه نړیوال جال اغېز پر پښتو ادب او ورسره د خپل پښتو ادب ځلېدل په دغه نړیوال جال کې وڅېړل شي، انټرنېټ پر پښتو ژبه او ادب اغېز کړی، مثبت او منفي اغېز کړی.

دا چې زموږ ځینې ځوانان له دې نړیوال جال څخه ګټه پورته کوي؛ خو پردې نه پوهېږي چې دې جال زموږ پر ادب څه اغېز کړئ؟ د دې لپاره چې اوسني او راتلونکي نسل له دې نړیوال جال او نویو پرمختوګونو څخه په سمه، اسانه او لنډ وخت کې کار واخیستلای شي. د داسې خپرنیزو علمي او ادبي لیکنو چې په وېب پاڼوکې خپرېږي باید د بېلابېلو ورځپاڼو، مجلو، اوونیزو او ان د ځینو عالمانو او استادانو د مقالو او لیکنو ټولګې برابرې شي، ځکه موږ خو به یوازې پر پښتو ادب د انټرنیټ مثبت او منفي اغېز وڅېړو باقي پاتې شوه د تحلیل او کره کتنې برخه چې هغه بیا زه له خپلو ګرانو دوستانو هیله کوم چې یا دې خپله پرې یوه څه ولیکي او یا د مونږ سره په دې اړه لا نوره همکاري وکړي.

د دې لیکنې څخه مې موخه پښتو ادب ته د انټرنېټ ګټې او زیانونه ښودل دي، چې له ګټو به یې لوستونکي خبر شي او له زیانونو او ستونزو څخه مې موخه د وېب پاڼو چلوونکو او مسؤلینو متوجه کول دي څو خپلې وېب پاڼې د نړیوالو نورمونو سره سمې جوړې کړي او د بې معني لیکنو په واسطه دې د خپلو وېب پاڼو رنګه نه بدوي، د دې تر څنګ مې ځینې تخنیکي ستونزې ور په ګوته کړي چې انشاالله د وېب پاڼو مسؤلین به ورته پام وکړي ترڅو مو ادب د نړیوال انټرنېټي ادب له معیارونو سره برابر او سیال شي.

علاوه له دې چې انټرنېټ د انسان د ژوند پر سبک، ټولنيزو روابطو او فرهنګي ساختارانو اغېز کړي، په لنډه تنګه موده کې پر پښتو ادب، ليکوالۍ، نظم، شعر او نثر باندې محسوس اغېز کړي او داسې تغيرات پکې رامنځ ته شوي، چې ځينې يې د ژبې او ادب د پر مختګ او ځينې يې د رکود لامل شوي. دا چې زموږ ډېرى ځوانان له انټرنېټ او وېبپاڼې که دا پښتو علمي يا ادبي وېب پاڼې دي او يا ټولنيزې رسنۍ په هر حال دوى کوښښ کوي، چې خپلې ليکنې په انټرنېټي جال باندې خپرې کړي. دې خبرې سره به د مطبوعاتو او رسنيو ستر او رغنده نقش خلکو ته څرګند شي، بلکه دا چې د دغې خبرې له وجې به نوي ځوانان وهڅول شي تر څو دې ته ورته خبرې چې زموږ د فرهنګ په غنا او نويو پرمختګونوکې مرسته کوي، ترسره کړي؛ څو مو ادب د انټرنيټي ادب نړيوالو معيارونو سره برابر شي.

**انټرنيټي يا انلاين ادبيات** :

انټرنېټي ادبيات هغو ادبياتو ته ويل کېږي، چې په هغوکې د انټرنيټ د مروجو تعبيرونو، ترکيبونو او اصطلاحاتو څه کار اخيستل کېږي. يا هغه ادبي اثار چې په انټرنيټ کې خپريږي، په دې کې ممکن چې چاپي نسخه هم وي او د دې لپاره يې په برېښنايي ويب پاڼه کې خپروي چې ټوليز لاسرسي ورته وشي؛ نو يې برېښنايي نسخه په ويب پاڼه کې خپروي. په دې انټرنيټي ادبياتوکې لرغوني، کلاسيک او معاصر درې واړه شامل دي او کولای شو دا ادبيات برېښنايي ادبيات ونوموو، له چاپي ادبياتو سره يې توپير نشته خو يوازې توپير يې په ښېګڼو کې دی، چې د برېښنايي ويب پاڼو ادبيات د پلټونکي وسيلو په واسطه پيدا کولای او له برېښناييتوب نه يې ګټه اخيستلای شو.

غضنفر وايي:

> " د انټرنيټي ادبياتو ډېرى مخاطبين ځوانان وي؛ خو که څوک غواړي چې خپل اثر په کتابي بڼه په هارډ کاپي سره چاپ کړي؛ نو شايد د کتاب او يا ليکنې محتوا يې هم تغير وکړي ځکه په هارډ کاپي سره ليکوال يا شاعر له هغې ازادۍ ډموکراتيکې فضا څخه راوځي کومه چې د انټرنيټ فضا ده. خو له بلې خوا انټرنيټ خپل محدويتونه هم لري؛ خو که يو څوک خپل اثر په هارډ کاپي سره چاپوي؛ نو له هغو انټرنيټي محدوديتونو سربيره شايد له نورو ډېرو محدويتونو سره هم مخ شي، مګر که د خپل اثر محتوا يا شکل بدل کړي او د کره کتونکو او خپروندي راضايت لاسته راوړي نو د محدويتونو کچه به يې راټيټه شي".(3)

**د ليکوالۍ پر قواعدو د انټرنېټ اغېز** :

په تېرو څو کلونو کې د انټرنټ په نړۍ کې د پښتو د راڅرګندېدو لپاره زيات کار وشو، په خاصه توګه په وروستيو څلورو کلونو کې، چې هم ځينې پخوانۍ ويبپاڼې غني شوې او هم زياتې نوې پاڼې

راووتې. د دې تر څنګ زياتو ليکوالو خپل شخصي ويبلاګونه جوړ کړل چې هرې يوې ته دوی خپلې ليکنې او نور مطالب ورپورته کوي. د دولتي او غيردولتي ادارو له خوا هم مستقلې پاڼې جوړې شوې.

سمه ده چې په دغو پاڼو کې زياتې ستونزې موجودې دي، خو دا يوه نوې پديده ده، چې د وخت په تېرېدو سره به تصفيه کېږي، بدلونونه به په کې راځي، معياري کېږي به او وده به مومي.

په لومړيو کې د پښتو ليکنو او مطالبو د لوستلو په برخه کې زياتې ستونزې وې، زياتې پاڼې داسې وې، چې لوستونکو بايد خامخا په پاڼه کې ايښوول شوی پښتو فونټ خپل کمپيوټر ته دننه کړي، انټرنټ پښتو سمه نه شواى لوستلاى، خو نن سبا دغه ډول ځينې ستونزې حل شوي دي، ان چې په دې وروستيو راوتلو ويندوزونوکې تقريباً د نړۍ زياتې ژوندۍ ژبې راغلي او د انټرنټ له لارې ليکنې لوستل کېداى شي.

له نيکه مرغه چې په ۲۰۱۶ کال کې ګوګل چې انټرنيټ کې د سرچ انجن يا د پلټنې ماشين په توګه پېژندل کېږي د ژباړې په خدمتونو کې يې پښتو ژبه هم ورزياته کړه.

د ګوګل دغه اعلان د افغانستان د دولت او د هېواد په بېلا بېلو برخو کې له هرکلي سره مخ شو. اوس ګوګل په يوسل او درې ژبو د ژباړې خدمتونه وړاندې کوي.

ګوګل د ژباړې خدمتونه د دوه زره شپږم کال په اپرېل مياشت کې پيل کړل او په لسو کلونو کې يې وکولاى شول چې په انټرنېټ کې له ټولو هغو ادارو چې د ژباړې خدمتونه وړاندې کوي ډېر مينه وال پيدا کړي. لومړی يې خدمتونه په انګليسي او عربي، بيا و روسي او نورو ژبو ته ورزيات کړل.

انټرنېټ د ليکوالۍ پر قواعدو او طرز محسوس اغېز کړی دی. زموږ په مطبوعاتي ليکنو کې د بې خونده اطناب يو ډول دا دی چې ليکوال به موضوع ته ژر نه داخلېږي. په انټرنيټي ليکنوکې د سمدستي خبرې کولو تمايل زيات شوی دی. د اخبار او مجلې لپاره ليکنه که ډېره لنډه وي، ممکن چاپ نه شي. دغه شي ليکوال هڅاوه چې خبرې وغځوي. له انټرنيټي ليکنو دغسې غوښتنه نه کېږي. په يوه مجله يا اخبار کې د ليکنې د خپرېدا لپاره  د خپروونې د مسوول موافقه لاژمه ده. د خپروونې مسوول د خپل مسووليت د کمولو لپاره هغه ليکنې ممکن زياتې خپرې کړي چې د سبک او محتوا له اړخه تجربه شوې او منل شوې وي. په انټرنېټ کې چې د چلوونکو د مسووليت بار کم دی، ليکونکي دا فرصت ډېر لري چې خبرې هماغسې وکړي چې د دوی زړه يې غواړي او د بل چا (مسوول مدير) ذوق، اند ېښنو او مفکورو ته ونه ګوري.

غضنفر وايي :

"د انټرنېټ په ليکوالۍ کې د ليکوال د خبرو د طبيعي طرز او د ليکلو د طرز تر منځ واټن کم شوی دی. د ليکوالي په اړه يو مشهور قول دی چې د ځان بيان ته وايي. کله چې د قلم څښتن

د ځان د بیان په لاره کې خنډ ونهویني، کامیابي یې زیاتېږي. که له دې اړخه ورته وګورو نو ویلای شو چې له انټرنټ سره د سبکونو تنوع او د زړه د خبرې د کولو امکان زیاتېدلای شي او دغه زیاتېده د هنري لیکوالۍ له پرمختګ سره مرسته کوي." (4)

انټرنېټ د لیکنې د سمدستي خپرېدو امکان زیات کړئ دی. د سمدستي خپرېدلو ګټه دا ده چې لیکوال لیکلو ته هڅوي خو تاوان یې دا دی چې په خپرېده کې یې شاید بیړه وکړي. موږ معمولا هغه وخت قلم را اخلو چې یوه خبره راته مهمه ښکاره شي او احساس مو وپاربېږي. په دغسې شېبو کې په خپله لیکنه باندې قضاوت اسانه نه دی خو څو ورځې پس چې احساسات مو ساړه شوي وي، په لیکنه باندې قضاوت راته اسانه کېږي او ګټور کمی زیاتی پکې راوستلی شو.

له انټرنېټ سره وصل لیکوال چې د دنیا تر ګردو لوی کتابتون ورسره دی، معلومات په اسانه تر لاسه کوي او دا امکان ورسره زیات دی چې لیکنه یې د معنا په لحاظ لا بهتره شي.

پنځوس کاله پخوا چې په افغانستان کې کتابونه او معلومات خورا کم ؤ، لیکوالو د یوې موضوع دتوضیح لپاره د خیالي مثالونو راوړلو او تشبیهاتو ته زیاته مخه کوله خو اوس چې ارقام، احصاییې او فکټونه په اسانه مومي، په لوستونکو باندې د خپلې مدعا د منلو لپاره ممکن د خیالي مثال تر راوړلو د واقعي مثال ورکول غوره وبولي.

نړیوال جال سره پښتو ژبې پرمختګ کړئ دی. انټرنېټ چې هر چاته د څه خپرولو اجازه ورکوي، د لیکوالو د شمېر په زیاتوالي باندې یې هم مثبت اثر اچولی دی.

ځینې د نظر خاوندان وايي چې د نړۍ بډایه ژبو ته انټرنیټ ډېره ګټه رسولې او د دې ژبو په خپرېدو کې یې لویه برخه اخیستې ده. دا خبره به سمه وي خو انټرنیټ هرې ژبې او هر فرهنګ ته ګټه رسولې ده. د غضنفر له نظره:

"انټرنیټ له نړیوالو ژبو راوروسته د نړۍ هغو ژبو ته لا زیاته ګټه رسولائ شي چې د پښتو غوندې په رسمیاتو کې ورسره بې انصافي کېږي. انټرنیټ چې ټولو ژبو ته د خپرېدو یو شان امکانات برابروي ، د مظلومو ژبو مینه والو او لیکوالو ته دا چانس ورکوي چې خپل آثار بې سانسوره او وړیا خپاره کړي." (5)

انټرنیټ چې د تلویزیون غوندې په اسانۍ سره کورنیو ته لاره کوي، ادبیات کورونو ته رسوي او د ګڼو مېرمنو په شمول، د ټولنې له منځه شړل شویو کسانو ته موقع ورکوي چې د ادبیاتو په لوستلو او ایجادکې لا زیاته برخه واخلي. یوه مجله یا اخبار بیعه لري خو په انټرنیټ کې اکثره لیکنې وړیا لوستلای شو چې دغه ځانګړنه یې هم د فرهنګ او ادبیاتو له عمومیت سره مرسته کوي. مختلفو سیمو ته د مجلې، اخبار یا کتاب رسول سخت کار دی، خو انټرنیټ په امریکا او اروپا کې ډېره

افغان لیکوالو ته فرصت برابروي چې د خپل وطن له لوستونکو او لیکوالو سره رابطه وساتي. د لیکوالو تر منځ رابطه او د لیکوالو او لوستونکو ترمنځ رابطه په ادبي کار باندې خورا مثبت اثر اچولی شي.

غضنفر(۱۳۹۶) وایي:

" د ادبیاتو په تاریخ کې لولو چې لیکوال او شاعران معمولا په یوه زمانه کې او خاصې سیمې کې زیات راپیدا شي. دغه شی به مختلف وجوهات لري خو یوه وجه یې دا ده چې ختکی له ختکي څخه رنګ اخلي او یوازې الماس دی چې الماس غوڅوي. که زه شاعر یم او زما په زمانه کې او زما په ښار کې لوی شاعر اوسي زما به هڅه دا وي چې تر ده یې واړوم خو که داسې څوک نه وي، زما منډه ممکن یو څه ټکنۍ وي. انټرنیټ ټول اهل قلم سره یو ځای کړي دي. که انټرنیټ نه واي، اروپا او امریکا ته تللي افغان لیکوال به خدایزه د اوس هومره فعال وو." (6)

ما خپل تیزس کې د صالح محمد صالح خبره راخیستې، صالح وایي:

"د انلاین لیکنو لپاره تر ټولو غټ شرط د ده په نظر دا دی، چې لیکنه باید لنډه وي، د هر پراګراف ترمنځ فاصله مراعات شي، که چېرې عکس ورسره ملګری کېږي، له موضوع سره اړخ ولګوي، خبره دې له اصلي موضوع پیل شي، که د کومې مجلې لیکنه سایټ ته ورکوي باید لنډه شي او په کار ده نوې خبره د ویبپاڼې په سر کې راشي".(7)

په افغانستان کې زیات کم کسان د ویبپاڼو لپاره لیکنې کوي، اکثره لیکنې مو د چاپي خپرونو دي، یا داسې مقالې دي چې ډېرې اوږدې دي، که چېرې څوك یوه مهمه موضوع په لنډو کې لیکي، خلك فکر کوي دا لیکنه دومره مهمه نه ده، ځکه چې لنډه ده. حال دا چې اوس بوخته زمانه ده، خلك د اوږدو لیکنو لوستلو ته کله دومره وخت لري.

**د بېګانه وییونو کارونه** :

زموږ ژبه کې له مخکې هم پردي وییونه ډېر وو؛ چې د انټرنېټ په عامیدو سره نور هم دا وییونه ډېر شوي، دا چې دوی د انټرنېټ په واسطه له نورې نړۍ سره اړیکه نیسي او ډېری ځوانان د انګلیسي د زده کړې علاقمند هم دي؛ نو په لیکنو کې د نورو ژبو په ځانګړي ډول د انګلیسي وییونه په انټرنیټي ادب کې ډېر لیدل کیږي.

انګلیسي ژبې د خپلې سلطې او قدرت له مخې د انټرنېټ او کمپیوټر په واسطه خلک دې ته اړ کړي چې دې ژبې سره ځانونه بلد کړي.

دغه لغتونه چې پښتو ژبې او ادب ته راننوتي دي ځينې عبارت دي له : اوکې ، چټ ، ريپلای، اډول، سينډ کول، ايميل، کليک، ريکويسټ، انلاين ، جوين کيدل، ګروپ او ځينې نور لغتونه دي چې پښتو ژبې ته راننوتلي دي.

"په مسنجر دې پيغام راغی
زما د زړه په ويب سايټ اور ولګيدنه
د زړه سيټنګ مې خراب دی وای
ليوني يار مې په کې ګوتې وهلي دينه کنه
ستا جدايي مبايل په لاس کې
دا ستا يادونه پکې يو يو سيو کومه"(8)

**املايي غلطۍ** :

د مجازي نړۍ يوه ځانګړنه د ليکنو سرعت دی او لوړ سرعت بيا دقت نه کولو لامل کيږي، ښه مثال ټليګرام دی چې مخکې نه خبرې نه اماده کيږي او په لوړ سرعت خبرې کيږي. اديبان خو به يو څه مراعات کړي؛ خو عوام بيا دې شيانو ته توجه نه کوي. دا چې انټرنېټ هر چاته د څه خپرولو اجازه ورکوي، د ليکوالو د شمېر په زياتوالي باندې يې هم مثبت اثر اچولی دی؛ خو انټرنېټ عام وخاص مخاطب ته د دې فرصت ورکوي چې په ليکلو پيل وکړي، او دې سره د کم سنه او کم سواده خلکو ته هم د کار زمينه برابريږي او خپل شعرونه او ليکنې خلکو ته وړاندې کوي، چې دې کار پښتو ليکدود ته زيانونه اړولي دي.

ځينې کسان شکايت کوي چې د نړيوال جال په ليکنو کې له ماخذه لږ استفاده کېږي. ځينې نور بيا وايي چې په مطبوعاتو کې به د رسنۍ چلوونکو د ليکونکو املايي تېروتنې سمولې خو په انټرنيټ کې به يو کندز ليکي، بل قندز، بل قندوس او څلورم کندوز. د دغو کسانو په نظر په پښتو املا کې معيار ته بې پامي به د پښتو ليکنو لټون مشکل او املايي ګډوډۍ زياتې کړي.

**د ګرامري قواعدو نه مراعات**:

دا چې انټرنېټ عام و خاص، کم سواده او باسواده ته د ليکلو زمينه برابره کړې، ډېری ځانونه پکې امن احساسوي او په خپله پاڼه خپلې ليکنې بې له دې چې څوک يې وګوري او اصلاح يې کړي خپروي او د ژبې د ګرامر کوم قواعد او اصول چې دي هيڅ به نظر کې نه نيسي.

هغه نوي ځوانان چې تازه يې سواد ته مخه کړې د دې پر ځای چې په ټولګي کې د ګرامري قواعدو په اړه ځان پوه کړي پر انټرنيټ ليکنې کوي او نور تنکي ځوانان يې لولي او تقليد ځينې کوي. د دې

ترڅنګ چې ګرامري قواعد په نظر کې نه نیسي، محاوروي ژبې یا لهجې یې لیکنو باندې اغېز کړی. مثال : څکې؟ یعني څه کوې؟ د احمد زوی وسو. یعني د احمد زوی وشو. او داسې نور...

**پر پښتو شعر او نظم د انټرنېټ اغېز** :

په نولسمه پېړۍ کې چې زموږ په سیمه کې اخبارونه نه ؤ، ډېرې پېښې په چاربیتو کې بیانېدلې. په هغه وخت کې چاربیتې تر اوس ډېرې عامې وې. وروسته بیا چې اخبارونه راووتل او د پېښو د بیانولو دنده اخبارونو په غاړه واخیسته، چاربیتو ته یوه اړتیا کمه شوه. د چاربیتو د لاکمېدا یو بل دلیل راډیو او ټلویزون دي. د راډیو او تلویزیون له پیدا کېدو سره سندرې لنډې شوې او څرنګه چې د چاربیتې سندرې نسبتاً زیات وخت غوښت؛ نو د راډیو او تلویزیون په عصر کې چاربیتې په سندرو کې لږ وویل شوې او په دې ډول د دې ژانر شاعري لامحدوده شوه.

انټرنیټ چې د لیک، تصویر او اواز درې اړخیزه رسنۍ ده، ادبیاتو ته یې د تصویرونو او اواز له درکه هم نوي امکانات ورکړي دي. موږ په نړیوال جال کې د شاعرانو د شعرونو دکلمې لولو او اورو او له ځینو شعرونو او کیسو سره ډېرې ښایسته منظرې وینو. ماشومان چې له رنګینو او متحرکو منظرو ډېر خوند اخلي، د انټرنیټ په برکت یې ادبیات نور هم جالب شوي دي.

د نوو نظمي فورمونو ترڅنګ د محتوا له مخې هم د سنتي شعر او نظم په توپیر شعرونه او نظمونه ګورو، اورو او لولو د شعرونو ډېري منځپانګې شخصي احساساتو ته ځانګړې شوې دي.

انټرنیټ د ګڼو مېرمنو په شمول، د ټولنې له منځه شړل شوو کسانو ته موقع ورکوي چې د شعر په لیکلو او اورولو کې برخه واخلي.

شعر د وړاندې کولو له مخې وروسته له انقلابه کولای شو لومړۍ لسیزه د کتاب شعراو دویمه لسیزه د مجلې شعر او دریمه لسیزه د انټرنېټ شعر ته ځانګړې کړو.

**د انټرنیټي لنډیو او شعرونو پیدا کېدل** :

"نن رانه لرې لرې ګرځه
دماغ می شاټ دي رانه بلاک نه شې مینه"(9)

یا :

"په مسنجر دې پیغام راغی
زما د زړه په ویب سائټ اور ولګېدنه"(10)

**ډیجیټلي شعر او نظم** :

هغه شعر او نظم دی چې د لیدلو، لوستلو ترڅنګ اورېدل کیږي. تصویري شعر هم د ډیجټالي شعر څخه دی چې په ګرافیک سره ښکلي کیږي، چې انټرنېټ سره راپیدا شوی دی.

**د عليرضا شوهاني د ډيجتلي شعر په اړه وايي:**

"یکی از انواع شعر دیجیتالی، شعرهای تصویری و دیداری هستند که با بهرهگیری از هنر گرافیک و هنجارگریزیهای نوشتاری، خود را به مخاطبانش عرضه نموده است و از آن جهت که به عکسها،نقاشیها و شکل چینش واژگان خود وابسته است، با گسترش یافتن فضای مجازی و رسانههای آن،امکان رشد و گسترش بیشتری یافته است".(11)

**ژباړه** : د ډيجتلي شعرونو څخه يو تصويري او ليدو وړ شعرونه دي چې د ګرافيک او ليک هنرڅخه په ګټه مخاطبانو ته وړاندې کيږي او په انځورونو، نقاشيو او د کلماتو په شکل چيني سره تړلي دي او د مجازي دنيا او دهغوی د رسنيو سره يې د پرمختګ او پراختيا زمينه ډېره شوې ده.

د خپلې خوښې مطابق د شعرپه پاورلينک کليک کيږي او خپل د خوښې شعرونه په اسانه پيداکولای، نقدکولای ، لوستلی او اورېدلای شو.

انټرنېټ ته د نويو او تنکيو ځوانانو مخه کول او پر نړيوال جال خپل شعرونه ليکل او خپرول پر پښتو شعر محسوس اغېز کړی.

**د مناسبتي شعرونو ډېرښت** :

هغه شعرونه چې شاعران په يو مناسبت شعرونه وايي. لکه د سولې لپاره، د اختر لپاره يا د پسرلي لپاره يا د مور ورځې لپاره چې شعرونه ويل کيږي او د دې شعرونو د ډېرښت لامل مجازي نړۍ يا انټرنېټ دی.

**پر پښتو نثر د انټرنېټ اغېز** :

په اروپا کې چې په اتلسمه پېړۍ کې په فلسفي لحاظ د عقلانيت بازار تود شو او منځنۍ طبقه پياوړې شوه، د ناول ژانر د رومانونو او نکلونو ځای ونيو. د نوي فکر، نوو عقيدو او نوي تمدن خپل نوی ژانر پکار و.د اوسني نثر په اړه ويل کېږي، چې تر پخواني نثر د خلکو خبرو ته نږدې دی. د دې تحول يوه لويه وجه دا ده چې د مطبعې له اختراع وروسته د ليکوالو مخاطبان زيات شول او د خواصو په څنګ کې عوامو هم د لوستلو امکان پيدا کړ. ليکوالو دا په ګټه وليده چې په داسې طرز ليکنې وکړي چې ډېرخلک ورباندې پوه شي.

انټرنېټ چې د مطبعې په څېر د بشر د تاريخ يوه ډېره مهمه اختراع ده، په ادبياتو باندې يې ژور اثر غورځولی دی. که څه هم احصاييې ښيي چې شاوخوا دوه فيصده افغانان له انټرنېټه د استفادې امکانات لري او که څه هم پوهېږو چې په دې دوو فيصدو کې يوازې يوه وړه برخه ځلرويشت ساعته او چټک انټرنېټ لري، مګر په پښتو ادب يې د څو کلونو په لنډه تنګه موده کې محسوس اثر کړی دی.

انټرنېټ په پښتو نثر کې ایجاز ډېر او اطناب کم کړ. ځینې لیکوال خو اوس له دې سره دلچسپي لري چې خپله خبره په دوو، دریو جملو کې راټوله کړي.

دا لنډې لیکنې د دې لامل شوې چې پښتو لنډ نثري فورمونه لکه، لنډه کیسه، ادبي ټوټه ډېرې عامې شي او حتی چې اوس اوس خو لنډکۍ کیسې هم رامنځ ته شوې دي.

نوي نثري فورمونه لکه لنډه کۍ کیسې چې موسیقي هم ورسره ملګرې کیږي د انټرنیټ په راتګ سره پیدا شوي دي.

**وېبلاګ نویسي** :

د پښتو ژبې وېبلاګونه د معاصرې زمانې د کلتوري هلوځلو په لړ کې د خدمت او کار کولو هغه فرهنګي وسیلې ګڼلی شو، چې په ډېرآسانه، ګړندۍ او اغیزمنه توګه د لیکوال له ذهن څخه د هغه د ګوتو او فکر په هڅه تولید شوي توکي اخلي او د ټولې انساني نړۍ په ګوټ ګوټ کې یې د مینه والومخې ته په مینه مینه ږدي.

پښتو وېبلاګونه چې د انټرنېټ پرمټ نن د لیکوالو، لوستونکو، څېړونکو او کره کتونکو په چوپړکې قرار لري د یوه داسې الهي نعمت حېثیت لري چې که په مثبته، روغه او ریښتنې توګه د خپل پښتني فرهنګ په غوړېدو کې ترې کار واخیستل شي نو د عامه پوهاوي او ستر خدمت ترڅنګ به یې خاوند ته د لوی خدای (ج) په مهربانۍ او د جاریه صدقې په حېث اخروي اجرهم حاصلیږي. نو راځۍ چې له دې کلتوري مورچلونو څخه د یوې سالمې سیالۍ په توګه کار واخلو او په داسې توګه یې د چلولو هوډ وکړو چې زموږ د ټولنې نوې راټوکېدلې غوزې د ښیرازه سمسورتیا او غوړېدو په لوري ګړندي او په ګټورو معلوماتو یې سمبال کړي.

لوستونکي، کره کتونکي او تبصره کوونکي دې د هر لیکوال په هکله که یې هغه خوښیږي او یا یې نه خوښیږي، که یې ملګری وي او یا یې ملګری نه وي نو د نظر د ښکاره کولو په وخت کې دې د اړوندې لیکنې په هکله یوازې او یوازې د لیکوالۍ آرونه په نظر کې ونیسي. په دې باره کې په حقیقي یا مستعارو نومونو د هر ډول شخصي عقدې، کینې، ښکنځلو، او یا داسې نورو ناوړه خبرو بیانول پرته له دې چې نظر ورکوونکی د ګناه لورته بوزي، شخصیت یې ټیټ وښي بله لاسته راوړنه نه لري. همدارنګه دا خبره په ډاګه کوي، چې د ناوړه نظریاتوتبصره کوونکی د انسانیت د یوې داسې ضعیفې مرتبې خاوند دی، چې حتی د قلم، ګوتو او لیکوالۍ حرمت په پام کې نه نیسي اوځه یې چې په خپل بې لارې فکر کې ور جوړیږي؛ نو د عامو لوستونکو مخې ته یې ږدي، چې په حقیقت کې دغه

کار یوه اخلاقي نیمګړتیا ده. په داسې مواردو کې باید پاملرنه وکړو، چې د ځمکې او آسمانونو خاوند زموږ په هرعمل، قول او لیکنه ناظر او حاضر دی.

شېرشاه وايي :

"د پښتو وېبلاګونو خاوندانو ته ښايي چې داسې لیکنې په خپلو وېبلاګونو کې د کره کتنې او تبصرو لپاره وړاندې کړي، چې ده ته له ټولو ښه ښکاره شوې وي، هیله من پېغام ولري او د ملي ګټوپه بنسټ ولاړې وي. همدارنګه په خپله لیکنه کره کتونکو ته د تبصرې کړکۍ د دې لپاره پرانیزي څو هغه په خپل هنر کې د پوخوالي خواته بوزي".(12)

**د لنډه کۍ کیسو او لنډو لیکنو ډېرېدل** :

لنډه کۍ کیسه چې له لنډې کیسې څخه هم وړه ده د انټرنېټ په راپیدا کېدو سره راوج موندلی او حتا چې په دې ورستیو یې کې بېلګې هم چاپ شوي دي. پر انټرنېټ هغه لیکنه چې لنډه وي او په دوه درې کرښو کې وي ډېره لوستل کیږي، په انټرنېټ کې اوږدې لیکنې څوک نه لولي. یعني په نثر کې د پخوا په نسبت ایجاز ډېر او اطناب کم شوی دی.

**انټرنېټ او کره کتنه** :

د انټرنېټ په رامنځ ته کېدو سره نویو او کم تجربه ځوانانو لیکنو او د ادبي اثارو تخلیق ته مخه کړې او د دوی په اثاروهیڅ ډول لازمه کره کتنه نه کیږي، چې دا به په راتلونکي کې هم د لیکوال د لیکنو کېفیت ته او هم پښتو ادب ته زیان ورسوي.

بله خبره د فردي خلاقیت نشتون دی. په انټرنېټ کې هر سړي ځانه کره کتونکی جوړ کړی ، د شمیسا د فردي خلاقیت په اړه وايي :

"منتقد ادبی به اندازۀ صاحب اثر باید دارای ذوق و خلاقیت باشد، با این فرق که نویسنده و شاعر ضرورتاً اهل فضل و به صورت خوداگاه آشنا به همۀ فوت و فنهای علوم ادبی نیست، حال آن که منتقد ادبی باید دقیقاً به علوم ادبی آشنا باشد تا از آنها به عنوان ابزاری در تجزیه وتحلیل عوامل علوّ آن اثر ادبی بهره گیرد. امروزه که در فضای مجازی با عنوان نقد ادبی عرضه میشود، بیش از آنکه مطابق اسلوب نقد علمی و هنری آثار باشد، حاصل نوعی دریافت و احساس شخصی و گاه توأم با چاشنی جانبداری یا بیزاری از اثر یا صاحب اثر است".(13)

**ژباړه** : چې کره کتونکی باید د ادبي اثر تخلیق کوونکي په اندازه د ذوق اوخلاقیت څښتن وي، لیکوال او شاعر له ادبي علومو او فنونو سره شاید بلد نه وي خو کره کتونکی باید له ادبي علومو سره بلد وي تر څو د ادبي اثارو پر تحلیل کې له هغو څخه ګټه پورته کړي. په انټرنېټ کې نن سبا چې د نقد کومه پروسه روانه ده هغه د نقد د علمي او ادبي اصولو مطابق نه ده بلکې یو شخصي احساس او نظر ده چې پر شعرونو او لیکنو باندې ورکول کیږي.

واضح ده چې ادبي نقد باید د یو لړ خاصو نظریو او معیارونو په رڼا کې ترسره شي. ځوانان باید له ادبي نظریو او مکتبونو او د کره کتنې ډولونو سره ځانونه بلد کړي، چې تر څو په انټرنېټ کې د یو ښې او معیاري کره کتنې درلودونکي واوسو.

د دې غیر متخصصو کره کتونکو ترڅنګ خوشبختانه چې ځینو پوهانو او نظر خاوندانو هم انټرنېټ او وېبلاګ جوړنې ته مخه کړې او د لیکنو او شعرونو په اړه خپل نظریات شریکوي چې دا بیا د ادب او د نوو ځوانانو لپاره یو زده کړیز مرکز هم کېدا شي.

په مطبوعاتي لیکنو کې ډېر تمایل دا وي چې لیکونکی د ځان او خپلو خاطرو په باره کې ډېرڅه ونه وایي خو په انټرنېټي لیکنو کې چې د ځان د بیان امکان پکې زیات دی، د شخصي خاطرو او مسایلو بیان ته توجه زیاته شوې ده چې یو سبکي تغیر یې بللای شو.

**پایله**:

د کره کتنې په لحاظ د انټرنېټ اثرات مثبت او منفي دواړه دي. په مطبوعاتو کې خو که څوک د بل چا په لیکنه تبصره کوي، اکثره وخت ځان نه شي پټولای خو په انټرنېټ کې ځان په اسانه پټوي. د ځان پټول لوستونکو ته دا امکان ورکوي چې لیکوال په دروغو خوشحاله نه کړي او له خپل واقعي احساسه یې خبر کړي. منفي اړخ یې دا دی چې د نوم د پټولو په مټ په یوې لیکنې باندې د بې مسوولیته تبصرو امکان زیاتېږي. دا د انسان فطرت دی چې برابري یې خوښېږي. که یو لیکوال ډېر وستایل شي، ممکن په ځینوکسانو ښه ونه لګېږي او د ستایل شوي لیکوال په ښو لیکنوهم په پردي نوم منفي تبصرې وکړي چې په نتیجه کې له لیکواله شاید لاره ورکه شي.

انټرنېټ د لوستونکو او لیکونکو په شخصیت باندې هم ژور او مثبت اثر اچوي. څرنګه چې په دې رسنۍ کې سانسور حد اقل ته رسېدلی دی نو مونږ هر یو ممکن ډېرې ترخې خبرې واورو. دغه ترخې خبرې به مو په اوله کې وځوروي؛ خو ورو ورو به ورسره عادت شو او په دې ډول به مو زغم زیات شي. په اوسنۍ دنیا کې د کامیاب او اخلاقي ژوند کولو لپاره دا ډېره ضروري ده چې د مختلفو او متضادو نظرونو د اورېدو حوصله ولرو. موږ له هغو کلیو او بانډو د تل لپاره رابېل شوي یو چې له زوکړې تر مړینې پورې به یوشان خبرې پکې اورېدل کېدلې او یو ډول نظرونه، یو ډول لباسونه او یو ډول دودونه به پکې وو. د اوسنۍ زمانې غوښتنه دا ده چې په مخالفو خبرو اور وانه خلو او خپله انرژي بې ځایه ونه لګوو، بلکې که د خپلو ارزښتونو د دفاع ارزو راسره وي؛ نو په کرارو اعصابو، د دلیل، معلوماتو او هنر په مټ به مقابله ورسره کوو. هغه څوک چې د خپلو مفکورو د دفاع لپاره د

قهر او اخطار او انتقام خبرې کوي، که څه هم په جسمي لحاظ د انټرنېټ په زمانه کې اوسي خو په ذهني لحاظ یې له اوسنۍ زمانې ډېر لرې د لرغوني وخت په کومه وچه شېله کې خیمه وهلې ده.

شپون صیب خبره ده چې د پښتو وېب سایټونوڅومره والی ډېر دی، د څرنګوالي په اړه یې باید لږ غور وشي، په افغانستان کې زیات مهال پرڅومره والي زیات حساب کېږي د انټرنټ په نړۍ کې هم دغه ستونزه شته". صالح محمد صالح له نظره: " څومره چې پاڼې زیاتېږي هغومره په دوی کې د توپیر اصل ته هم د خلکو پام اوړي، خلك به تر دې وروسته کرار- کرار هغه پاڼې زیاتې ګوري چې د دوی د اړتیا وړ مواد په کې وي او د دوی ذوق په کې خړوبېږي، یا د معیاري کېدو خوا ته نژدې کېږي.

په انټرنېټ کې ستونزې شته چې پښتو لا په پراخه پیمانه نه ده وردننه شوې، چې دغه ستونزې د وخت په تېرېدو سره حلېدای شي. یوه ستونزه د نوښت مسله ده چې د نوښت مسئله د چلوونکو په ذوق او هنري استعداد پورې هم اړه لري، که څوك د نوښت د منلو او رامنځته کولو استعداد ونه لري او هنري ذوق یې پخ وي، نه شي کولای د پام وړ لاسته راوړنه ولري. ځینې مشخص ویبسایټونه شته چې د محتوا، ډیزاین او ډول له مخې تر نورو ښه دي.

## حوالې

(1) تسل، احمد رسول، رسنۍ او ټولنه، جلال کوټ: ختیځ خپرندویه ټولنه.۱۳۹۲ل، مخ ۱۵

(2) پسرلی، صیام الدین، د افغانستان او نړۍ مشهورې وېب پاڼې، جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه. ۱۳۹۱ل. مخ ۳۰

(3) غضنفر، اسدالله، کلتور او ټولنه، جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.۱۳۹۶، مخ ۱۴۹

(4) همدغه اثر، مخ ۱۵۰

(5) همدغه اثر، مخ ۱۵۱

(6) همدغه اثر، مخ ۱۵۳

(7) عمرخېل،حمیدالله، پښتو ادب په وېبپاڼو کې، د ماسترۍ تېسیز. کابل پوهنتون. ۱۳۹۵،مخ ۲۰او ۲۱

(8) همدغه اثر، مخ ۲۲

(9) همدغه اثر، مخ ۲۵

(10) همدغه اثر، مخ۲۵

(11) شوهاني، علی رضا ،بررسی وجوه تأثیر فضای مجازی بر زبان و ادبیات فارسی معاصر،نشریه زبان و ادب فارسی دانشگاه تبریز،۱۳۹۷، مخ ۹

(12) همدرد، شېرشاه، د اوسني ژورنالیزم نچوړ. ننګرهار:ګودر خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۴ل، مخ ۱۵

(13) شمیسا، سیروس. نقد ادبي، تهران : انتشارات فردوس. ۱۳۸۳. مخ ۲۳